# الحدید

**مدنی سورة دی ۲۹ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝١

**د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او مخلوقات( د کائناتو ذره ذره) د الله تعالی په حمد او ستاینه بوخت دی( او د دې حقیقت اعلان کوی چې د دوی رب له هر ډول مشرکانه توصیفاتو نه پاک او مبرا) او برلاسی او د حکمت څښتن دی.**

لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ۝٢

**د آسمانونو او ځمکې مالکیت او سلطنت هغه ته ځانګړی دی، ژوند او مرګ د هغه په واک کې دی او پخپلو ټولو چارو او اقداماتو د داسې کامل قدرت څښتن دی( چې د حکم او فرمان د انفاذ په مقابل کې یې هیڅوک د اعتراض حق او جرأت نه لری).**

هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ۝٣

**( الله تعالی) تر ټولو اول دی( چې کائنات او مخلوقات نه وو، نو هم یوازې د الله تعالی ذات موجود و) او آخر هم دی( چې د ټولو کائناتو او مخلوقاتو له تباهی نه وروسته به بیا هم یوازې الله تعالی پخپل حال وی.« کل شیء هالک الا وجهه»). ظاهر هم دی( چې د هرشی په موجودیت کې د هغه د قدرت او نور ظهور څرګند دی) او باطن هم دی( چې په دې دنیا کې یې هیڅوک نشی لیدی او عقل او علم د هغه د ذات د حقیقت له درک کولو څخه عاجز دی). او په هر څه پوه ذات هم دی.**

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى
ٱلْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا
يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو( مرحلو) کې ايجاد کړل، او بيا په عرش( د هستئ د چارو د تدبير او سلطنت  په تخت) کيناست. څه چې په ځمکه ننوزی او څه چې له ځمکې راوځی، څه چې له آسمانه نازليږی او څه چې آسمان ته پورته کيږی،په ټولو الله تعالی خبريږی، او هر چيرې چې تاسو يئ هغه درسره دی، او ستاسو ټولې کړنې هم وينی.

لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥﴾

د آسمانونو او ځمکې سلطنت او واکمنی يوازې د الله تعالی ده او ټولې چارې هم بيرته الله تعالی ته ورګرځی.

يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ
ٱلصُّدُورِ ﴿٦﴾

(الله تعالی) شپه په ورځ او ورځ په شپه ورننه باسی او حتی د زړونو په پټو اسرارو او نيتونو هم ډير ښه پوهيږی.

ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَأَنفَقُوا۟ لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾

( ای هغو کسانو چې د ايمان ادعا کوئ!)په الله تعالی او رسول يې( د زړه له اخلاصه) ايمان راوړئ او له هغې شتمنئ څخه چې( حقيقی مالک يې الله تعالی دی او) تاسو يې له نورو نه وروسته واکمن کړی شوی ياست( د الله تعالی د رضا او د اسلام د سرلوړئ په چارو کې) ولګوئ. بې له شکه هغه کسان چې ايمان راوړی او( د الله تعالی په لار کې خپله شتمنی مصرفوی) د لوی اجر مستحق دی.

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ۙ وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ وَقَدْ أَخَذَ
مِيثَٰقَكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨﴾

او په تاسو څه شوی چې په الله تعالی او رسول یې ایمان نه راوړئ؟ په داسې حال کې چې پیغمبر تاسو ته پخپل رب د ایمان راوړلو بلنه درکوی، او که باورمن یاست نو لا پخوا درنه هم( د عقل او فطرت په وسیله د ایمان راوړلو او هم درنه په شعوری توګه د الله تعالی او رسول سره د ټینګې وفادارۍ) تعهد اخستل شوی دی.

هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِۦٓ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٩﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې خپل بنده ته روښانه آیتونه نازلوي، ترڅو تاسو( د کفر او جهل) له تیارو نه( د ایمان او اسلام) نور ته راوباسی، او بیشکه چې الله تعالی په تاسو ډیر زیات خواخوږی او مهربان دی.

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ ٱلْفَتْحِ وَقَٰتَلَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُوا۟ مِنۢ بَعْدُ وَقَٰتَلُوا۟ ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾

او په تاسو څه شوی چې د الله تعالی په لار کې انفاق نه کوئ، په داسې حال کې چې د آسمانونو او ځمکې حقیقی مالک او واکدار الله تعالی دی. ستاسو هغه کسان چې د( مکې) له فتحې نه وړاندې یې نفقې ورکړی او جهاد یې کړی، د هغو کسانو په نسبت چې وروسته یې په سر او مال جهاد کړی، د لوړو درجو مستحق دی، او الله تعالی له ټولو سره د نیک اجر وعده کړې، او بیشکه چې الله تعالی ستاسو په ټولو اعمالو ډیر ښه خبر دی.

مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١١﴾

څوک دی چې الله تعالی ته قرض احسن ورکړی، بیرته به ورته څو چنده زیات ورکړی شی او ارزښمند اجر او ثواب به هم تر لاسه کړی.

يَوْمَ تَرَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَـٰنِهِم بُشْرَىٰكُمُ
ٱلْيَوْمَ جَنَّـٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ
ٱلْعَظِيمُ ﴿١٢﴾

هغه ورځ چې مؤمنانو نارينه و او ښځمنو ته به ګورې چې له وړاندې او ښی اړخ کې به يې يو نور په ځغاسته روان وی( او ورته به ويل کيږی چې) نن تاسو ته د هغو جنتونو زيری دی چې د (ونو او ماڼيو) لاندې يې ( د الهی نعمتونو) ويالې روانې دی او تاسو به پکې تلپاتې هستوګن ياست. رښتيا چې دا لويه بريا ده.

يَوْمَ يَقُولُ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلْمُنَـٰفِقَـٰتُ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱنظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِن نُّورِكُمْ
قِيلَ ٱرْجِعُوا۟ وَرَآءَكُمْ فَٱلْتَمِسُوا۟ نُورًا فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابٌۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ
ٱلرَّحْمَةُ وَظَـٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ ﴿١٣﴾

هغه ورځ چې منافقين سړی او ښځمنې به يې مؤمنانو ته وايی: مونږ ته لږ انتظار وکړئ چې ستاسو له نور نه ګټه واخلو، خو هغوی به ورته ووايی: بيرته شاته وګرځئ او هلته د خپل ځان لپاره نور ولټوئ. په همدې کې به د دواړو ډلو ترمنځ يو دروازه لرونکی ديوال حايل شی، دننه به يې( په مؤمنانو) رحمت وی او بهر به يې( په منافقينو) عذاب.

يُنَادُونَهُمْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَلَـٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ
وَٱرْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ ٱلْأَمَانِىُّ حَتَّىٰ جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿١٤﴾

مؤمنانو ته به نارې وهی: آيا مونږ په دنيا کې ستاسو سره نه وو؟ مؤمنان به ورته ووايی: بيشکه چې واست، خو په لوی لاس مو ځانونه تباه کړل( چې د اسلام او پيغمبر تباهۍ ته تږی ناست وئ، د اسلام په حقانيت مو) شکونه کول او بې ځايه هيلو تيرويستی، تر هغه چې (ستاسو د تباهۍ لپاره د الله تعالی فرمان صادر شو او شيطان) په دې خوش باورۍ کې وغورځولئ چې الله تعالی ( ستاسو ملګری دی او تاسو په حقه لار ياست).

فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُؤۡخَذُ مِنكُمۡ فِدۡيَةٞ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ مَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُۖ هِيَ
مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٥

نو نن ستاسو څخه( له الهی عذاب نه د نجات لپاره) هيڅ فديه نه اخستل کيږی. هستوګنځی مو دوزخ دی، هماغه مو يار او سرپرست دی، چې د بيرته ورتګ لپاره تر ټولو بد ځای دی.

۞أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ
ٱلۡحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلُ فَطَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَمَدُ
فَقَسَتۡ قُلُوبُهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ١٦

آيا د مؤمنانو لپاره هغه وخت نه دی رارسيدلی چې زړونه يې د الله تعالی د نازل کړی شوی حق قرآن د ذکر( او ايمان راوړلو) لپاره نرم( او تابع) شی؟ او د هغو کسانو په شان نشی چې له دې وړاندې ورته آسمانی کتاب ورکړی شوی و خو( دنيوی مصروفياتو او ارزوګانو) ورته ژوند اوږد ښکاره کړ او بالاخره يې زړونه سخت شول، چې زياتره يې فاسقان او باغيان دی.

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ
تَعۡقِلُونَ ١٧

پوه شئ چې الله تعالی( د رحمت د باران په وسيله) په وچه او شاړه مړه ځمکه کې نوی ژوند پيدا کوی، او تاسو ته د خپل قدرت او ربوبيت نښانې ځرګندوی، ترڅو له عقل نه کار واخلی( او په دې حقيقت پوه شی چې الله تعالی د کافرانو او جاهلانو په مړو زړونو کې هم د ايمان او اسلام په وسيله نوی روح پيدا کولی شی).

إِنَّ ٱلۡمُصَّدِّقِينَ وَٱلۡمُصَّدِّقَٰتِ وَأَقۡرَضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعَفُ
لَهُمۡ وَلَهُمۡ أَجۡرٞ كَرِيمٞ ١٨

بې له شکه،هغو نارينه و او ښځو ته به چې په خيراتونو او صدقاتو سره الله تعالی ته احسن پور ورکوی، څو چنده زيات مال او شتمنی ورکړی شی، او د لا زيات اجر او ثواب( او جنت) مستحق هم دی.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ
رَبِّهِمۡ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ وَنُورُهُمۡۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١٩﴾

او هغه کسان چې په الله تعالی او د هغه په رسولانو یې ایمان راوړی( او دغه ایمان او یقین یې په اقوالو او اعمالو کې هم څرګند وی) ربښتینی( مؤمنان) او د خپل رب په حضور کی( د نورو خلکو په اعمالو) د ګواهانو ویاړ هم ورپه برخه دی. دوی د ستر اجر او ځانګړی نور مستحق ګڼل کیږی. او هغه کسان چې کافران او زمونږ آیتونه یې درواغ ګڼلی، بې له شکه د دوزخ ملګری (اوسیدونکی) دی.

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞ وَزِينَةٞ وَتَفَاخُرُۢ بَيۡنَكُمۡ وَتَكَاثُرٞ
فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِۖ كَمَثَلِ غَيۡثٍ أَعۡجَبَ ٱلۡكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ
فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَكُونُ حُطَٰمٗاۖ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٞ شَدِيدٞ وَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ
ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٞۚ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ﴿٢٠﴾

وپوهیږی چې د دنیا هغه ژوند( چې لرونکی یې د ایمان او نیک عمل نه محروم وی) صرف یوه لوبه او ساعت تیری، ظاهری ډول ډال او په یو بل باندې د ویاړ او برتری او په مال او اولاد کې د خپلمنځی سیالی نمایش دی. دغه ډول دنیا هغه باران ته ورته ده چې د غلو دانو په راشنه کیدو سره د بزګر زړه له خوښی نه باغ باغ کړی، خو بله ورځ زیر زبیښلی او په رژیدو شی، بالاخره تار په تار او خواره واره بوس شی،( د بې ایمانه دنیا پرستانو لپاره) په آخرت کې سخت عذاب دی( او د مؤمنانو لپاره چې دنیوی ژوند یې د الله تعالی په اطاعت او د خلکو د خیر ښیګڼې په چاروکې تیر کړی وی) د الله تعالی رضا او ښښنه ده. او د دنیا ژوند په حقیقت کې د ازمیښت یوه صحنه ده.

سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا كَعَرۡضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ
أُعِدَّتۡ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن
يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢١﴾

تلوار وکړئ، د خپل رب د بښنې په لور او د هغه جنت په لور چې پراخوالی یې د آسمانونو او ځمکې د پراخوالی سره برابر دی، او د هغو کسانو لپاره تیار شوی چې په الله تعالی او رسولانو یې ایمان لری. دا د الله تعالی فضل او لورینه ده هر چاته یې چې خوښه شی وربښی یې، او بیشکه چې الله تعالی د ډیرې زیاتې مهربانئ او فضل څښتن دی.

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ
مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ﴿٢٢﴾

هر مصیبت او آفت( لکه زلزله، سیلاب، توپانونه او قحطی او وچکالی) چې په ځمکه کې رامنځته کیږي، او (هغه غمونه او کړاوونه) چې تاسو ته په شخصی ژوندانه کې پیښیږی، لا پخوا د لوح محفوظ په کتاب کې ثبت دی. بیشکه چې( دغه حوادث او د هغو قاطعانه حکم صادرول یې) الله تعالی ته ډیر زیات آسان دی.

لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ
لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ﴿٢٣﴾

ترڅو تاسو( په دې باور وکړئ چې هر مصیبت او آفت او هر فضل او لورینه یوازې د الله تعالی په واک کې ده او انسان پکې هیڅ واک او اختیار نه لری)نو څه چې له لاسه ورکوی باید زیات افسوس او خفګان پرې و نه کړی، او څه چې تر لاسه کوی باید د مستئ تر حده ورباندې خوښ نشی، ځکه الله تعالې (په نعمتونو)متکبر فخر کوونکی نه خوښوی.

ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِۗ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ
ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٢٤﴾

هغه( متکبرین) چې پخپله بخیل دی او نور خلک هم بخل ته هڅوی، او څوک چې( د الله تعالی له احکامو او اطاعت نه په انکار سره) مخ وګرځوی( نو پوه دې شی چې الله تعالی ته هیڅ زیان نشی رسولی، ځکه) الله تعالی بې نیازه او ستایل شوی ذات دی.

لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ
وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۖ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ
شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّ اللَّهَ
قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾

بیشکه چې مونږ خپل پیغمبران له روښانه دلایلو سره استولی، او هغوی ته مو کتاب او( د حق او باطل د تشخیص او پیژندلو) تله ورکړې تر څو خلک عدالت تأمین کړی، او اوسپنه مو (په ځمکه کی) پیدا کړه چې د خلکو لپاره پکې د جنګ جګړې( وسایط او نظامی قوت) او ډیرې ګټې پرتې دی، تر څو الله تعالی( عامه منظر ته) هغه کسان وروپیژنی چې په غائبانه توګه د الله تعالی او د هغه د پیغمبرانو مرسته کوی. بی له شکه چې الله تعالی برلاسی او نه ماتیدونکی قوت دی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ
وَالْكِتَابَ ۖ فَمِنْهُم مُّهْتَدٍ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٢٦﴾

او نوح او ابراهیم مو( د پیغمبرانو په حیث) واستول او د هغوی دواړو په اولاده کې مو نبوت او کتاب ثابت وساته، چې ځینو یې د هدایت لاره ونیوه او زیات شمیر نور یې بې لارې شول.

ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ وَجَعَلْنَا فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۖ فَـَٔاتَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٢٧﴾

بیا مو د هغوی په تعقیب، پرله پسې نور پیغمبران واستول او ورپسې مو عیسی ابن مریم (په رسالت) مؤظف او انجیل مو ورکړ، او د هغه د پیروانو په زړونو کې مو نرمښت او مهربانی پیدا کړه( چې د الله تعالی له مخلوقاتو سره یې مینه او شفقت کاوه او پخپل منځ کې په یو بل مهربان وو)او هغه رهبانیت( ترک دنیا) چې دوی له ځانه جوړ کړی، مونږ نه و فرض کړی بلکه( هغوی پخپله) د الله تعالی د رضا د لاسته راوړلو لپاره (په ځان واجب کړی و) خو بیا یې هم په واقعی توګه تطبیق نه کړ. نو د هغوی له ډلې مو هغو کسانو ته( چې په محمد علیه السلام) یې ایمان راوړ اجر او ثواب ورکړ او زیاتره پکې فاسقان او نافرمانه شول( چې د هغه د نبوت حقیقت ورته ثابت دی خو بیا هم ایمان نه راوړی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَءَامِنُوا۟ بِرَسُولِهِۦ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِۦ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٨﴾

ای هغو کسانو( چې په پخوانیو انبیاو مو) ایمان راوړی، د الله تعالی( له عذابه) وویرېږئ، او د هغه په پیغمبر( محمد علیه السلام) ایمان راوړئ، تر څو مو دوه چنده رحمت در په برخه، او هغه نور درکړی شی چې تاسو پرې د هدایت لاره ووینئ، او (د ګناهونو او خطایاو) ښښنه هم درته وشی، بیشکه چې الله تعالی ډېر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی.

لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ مِّن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾

**ترڅو اهل کتاب وپوهيږی چې دوی( د محمد رسول الله د پيروئ او اطاعت نه غير) د الله تعالی رحمت ته د رسيدو بله هيڅ لاره نه لری. فضل او مرحمت د الله تعالی په واک کې دی، چاته چې يې اراده وشی وربښنی يې او بيشکه چې الله تعالی د ډير لوی فضل او مهربانئ څښتن ذات دی.**

**« تمت سورة الحديد بفضل الله و رحمته»**

**=====================**